

# د ښاروالیو ټاکنې

## یکشنبه ۱۳/۱۰/۲۴



زما ښار، زه هلته ژوند کوم، زه هلته رایه ورکوم!





# د ۲۰۲۴ کال د رایې ورکوونکو پاسپورټ د ښاروالیو ټاکنې



دا پاسپورت د ټاکنیزو تبلیغاتو وسیله نه ده.
دا  د رایو په اړه د خلکو د پوهاوي د کچه لوړه کول وسیله ده.

انسان تل ټولنيز ژوند تنظيم کړی دی. قوم، قبيله، کلی، په هره طريقه چې تنظيم شوی وي، خلک بايد د ټولنې په ګډه رول ولوبوي: عرضه کول، پالنه، د ډلې لارښوونه يا مديريت ، عدالت...

دا خلک  په پخوانيو وختونو کې څنګه ټاکل کيدل ؟ هيڅوک نه پوهيږي. په هرصورت ، ورو ورو، تمدن خپل کار وکړ. خلک ځانونه په داسې ادارو او قوانينو سمبال کړي دي چې د ښار مديريت ټاکلو چارواکو ته د سپارلو څرنګوالی تنظيموي. دا هغه څه دي چې موږ يې ډيموکراسي بولو.

په هرترتيب، دا کولی شي مختلف ډولونه يا شکلونه ولري. داسې ښکاري چې تابعيت په ځانګړې توګه د رايې ورکولو له حق سره تړاو لري. زموږ په هېواد کې  کله چې ښځې د رايې ورکولو حق نه درلود، نو نور حقونه يې هم نه درلودل چې  نارينه يې کارول . دا د دوی لپاره سپکاوی نه دی چې ووايی چې دوی په هغه وخت کې بشپړ اتباع او ښاريان نه وو.

د تابعيت مفهوم دومره پراخ دی چې په دې کوچني متن کې يې نشي سپړلی. راځئ چې په ساده ډول ووايو چې دا د منل شويو حقونو او منل شوي دندې څخه جوړ شوی ، چې دا ټول په اساسي قانون، قوانينو، مقرراتو، هر هغه متن کې شامل دي چې د خلکو د ټاکل شوي استازو لخوا رايه ورکول کيږي.

ښکاره خبره ده، که موږ په داسې ځای کې رخصتي واخلو چيرې چې ټاکنې ترسره کيږي، دا به زموږ لپاره بې ځايه وي چې په دوی کې ګډون وکړو. موږ د دې ټولنې تلپاتې  برخه يا غړي نه يو. له بلې خوا، چيرته چې موږ ژوند کوو، په مدني او سياسي ژوند کې ګډون نه يوازې مشروع، بلکې زموږ مسؤليت دی. دا يو حق دی مګر له هرڅه پورته زموږ  دنده ده ، په ځانګړې توګه زموږ د محلي ټولنې لپاره، هغه ښار چې موږ پکې ژوند کوو.

د دې حق او وظيفې په عملي کولو کې د هر چا سره د مرستې لپاره، د والونيا د سيمه ايز انسجام مرکز د مشورې او ملاتړ سيستم (DISCRI) دا د رايې ورکوونکو پاسپورت خپور کړ. موږ اميد لرو چې تاسو به دلته د ټولو پوښتنو ځوابونه ومومئ چې تاسو يې د رايې ورکولو حق کارولو په اړه  پوښتنې لرئ.

د ښاروالۍ په راتلونکو ټاکنو کې  د يو بشپړ تبعه کيدو لپاره تاسو اوس هر هغه څه لرئ چې تاسو ورته اړتيا لرئ




**د والونيا(فرانسوی ژبی) د سيمه ايزو ادغام مرکزونو مديريت**

# په بلجیم کې ټاکنې

**په بلجیم کې د رای ورکولو پاتو مختلف ډولونه شتون لري:**

- د ښاروالی او ولایتي ټاکنې په هرو شپږو کلونو کې ترسره کیږي.
- سیمه ایز او محلي ټاکنې په هرو پنځو کلونو کې ترسره کیږي.
- فدرالي ټاکنې په هرو پنځو کلونو کې ترسره کیږي.
- اروپايي ټولټاکنې په هرو پنځو کلونو کې ترسره کیږي.





دا د ټولو اروپایی اتحادیې (EU) اتباعو * او همدارنګه د ټولو غیر EU اتباعو لپاره ټاکل شوی چې د دوی د نوم لیکنې غوښتنې په وخت کې لږترلږه ۵ نا پریکړی یا پرله پسې کلونو لپاره په بلجیم کې اوسیږي.
دا د مارچ ۱۹ د ۲۰۰۴ کال یو قانون دی چې غیر اروپایی اتباعو ته د رایې ورکولو حق ورکوي، یوازې د ښاروالی په ټاکنو کې لاندې اټکل شوي ځانګړي شرایطو سره..

* د پیچلي او مغلق لوستلو او پوهیدنو د مخنیوي لپاره، موږ د " اتباع" او "رایه ورکوونکي" اصطلاحات کاروو ترڅو د خلکو ګروپونه وټاکو چې نارینه او ښځې یکې شاملي وي.

# تاکنو ته تلل: یو مدني اقدام


هرڅوک چې په بلجیم کې ژوند کوي او د یو ښاروالۍ یا ښار په ساحه  کې اوسیږي. د ښاروالۍ چارواکی د ښاریانو سره نږدې دی.



**ښاروالی  په لاندې چارو کې ورتیا لري:**

- نفوس یا د اتباعود چاروڅانګه  (پیژندپانه، د پتې یا آدرس بدلون، د کورنۍ جوړښت، د موټر چلولو جواز، پاسپورټ، او نور)؛
-  د مدني چارې څانګه ( زیږون، ودونه، مړینې، او نور)؛
- د ښاروالۍ شبکې ښوونځۍ؛
- د  CPAS او نورو خدماتو ملاتړ سره ټولنیز عمل (عامه ورکټونونه، د تقاعد شوي کسان ځینې کورونه، او نور)؛
- د ټولنیز  هستوګنې په مدیریت کې ګډون؛
- د محلي پولیسو لخوا خوندیتوب (د اوسیدونکو ساتنه او ترافیکو ساتنه) او د اور وژنې خدمات؛
- د سړکونو، ځنګلاری، فاضله اوبو، عامه روښانتیا او څراغونو او داسې نورو پراختیا او ساتنه کې کار کول.
- د ودانولو اجازه (ښاري پلان جوړونه)، په عامه سړکونو کې د فعالیتونو تنظیم کول (مظاهرې، لاریونونه)، ځانګړې دندې ترسره کول (ټیکسي، د چپس پلورنځی، د سړک سوداګری).
- د چاپیریال ساتنه (طبیعي ځایونه، د کثافاتو راټولول، د  کثافاتو بیارغې، د زهرجن کثافاتو راټولول، د ښار پاکول).
- ...

ښاروالۍ د کلتوري او سپورتي ژوند ملاتړ کوي (د ښاروالۍ کتابتونونه او موزیمونه، د سپورت کلپونه او د لامبو حوضونه، او نور).
ځینې ښاروالۍ د ښاري په شرکتونو کې هم شتون لري (ګاز، بریښنا، اوبه، روغتونونه، او نور).



رایه ورکول د خپلې ښاروالۍ د مدیریت لپاره د خوښې او ارادې څرګندول په معنی دی
مخکې له دې چې پریکړه وکړي، رایې ورکوونکي باید د مختلفو ګوندونو ټاکنیز پروګرامونه ولولي او دوی پرتله یې کړئ تر څو په یوه ګوند یا یو یا څو نوماندانو باندې خپل باور څرګند کړي.



د ټاکنو په پای کې اکثریت د ښاري شورا په ګډون د یوې یا څو سیاسي ډلو په شاوخوا کې جوړیږي.

دا اکثریت د ښاروالۍ مدیران یا اداره کونکی معرفي کوي:
د ښاروالي وکیلان یا د ښار مشران ښاروال هغه څوک دی چې په دې اکثریت کې ډیرې رایې ترلاسه کړي.

رایه

سلاکاران


۶ کاله دنده یا قیمومیت

د

۶ کاله دنده یا قیمومیت

ښاروال

۶ کاله دنده یا قیمومیت





رایه ورکول یو حق دی: هر رایه ورکوونکی، بلجیمی یا بهرنی،
په آزاده توګه د سیاسي ګوند لپاره خپل انتخاب بیانوي.
په بلجیم کې رایه ورکول  یوه ډنده دی: یعنی رایه ورکول واجب
یا جبري دی. ټول هغه بهرنیان چې د رای ورکوونکو په نوم
لیکنه کې نوم لیکنه کوي د رایې ورکولو لپاره اړین دي، پرته لدې
چې د توجیه وړ نشتوالی یا حقوقي وکیل ولري. دا د مدني چار
یاعمل لپاره هم یو فرصت دی. تاسو کولی شئ په خپله ښاروالۍ
کې د رای ورکولو یا شمیرنې د دفتر غړی هم شئ.

## د ښاروالۍ په ټاکنو کې څوک رایه ورکولی شي؟

عمومي شرطونه

د بلجیم ټول اتباع:

- د ټاکنو په ورځ کې ۱۸ کلن وي؛
- له مدني او سیاسي حقونو څخه برخمن شي.
- په یوه ښار کې میشت وي یا ژوند وکړئ .

هر بهرنی:

- یو غیر اروپایي اتحادیې تبعه چې د ګډون غوښتنلیک سپارلو په وخت کې په بلجیم کې پنځه کاله بې بنسټه اصلي استوګنځی لري او قانوني استوګنځي لري؛
- د اروپایي اتحادیې تبعه چې د بلجیم تابعیت نلري او د جولای ۳۱ / ۲۰۲۴ کال دمخه راجستر یا ثبت شوی دی.

**هغه خلک چې د ښاروالۍ په تیرو ټاکنو کې یې نوم لیکنه کړې، نور اړتیا نلري چې بیا نوم لیکنه وکړي، مګر د رایې ورکولو مکلفیت لري.**


### یوه پوښتنه ؟

: شین ( وړیا ) شمېره ۱۷۱۸ (وړیا شمیره)
بریښنالیک:elections@spw.wallonie.be
وېب پاڼه:
http://electionslocales.wallonie.be

## زه نوم لیکنه کوم

### ځنګه ؟

د نوم لیکنه یا ګډون غوښتنلیک سپارلو سره.
برسېره پردې، د اروپایي اتحادیې غیر اتباع
باید یوه اعلامیه یا څرګندونه لاسلیک کړي *
چې له مخې یې دوی د اساسي قانون، د بلجیم
د خلکو قوانینو او د بشري حقونو او بنسټیزو
آزادیو د ساتنې کنوانسیون ته درناوی کوي.
د نوم لیکنې فورمه ستاسو د ښاروالی د نفوسو
له څانګې او ستاسو کور ته نږدې د بهرنیانو د
ادغام یا د بهرنیانو د یو ځای کیدو له سیمه ایز
مرکز (CRI) څخه ترلاسه کیدی شي.



* د اعلامیې یا بیان
جوړښت د شاهي
فرمان لخوا ټاکل
شوی. له همدې امله دا
اړینه نده چې ستاسو د
ښاروالی د لیک
سرلیک یا سرنامه سره
فورمه ولرئ.

### اسناد چیرته وسپارئ؟

ستاسو د ښاروالی د نفوسو په څانګه کې.
که تاسو وغواړئ، تاسو کولی شئ خپل د نوم
لیکنې یا د ګډون غوښتنه او خپل بیان د یوې
اتحادیې له لارې خپلې ښاروالی ته وسپارئ.

**آپ کو فی شخص ایک
فارم مکمل کرنا ہوگا۔**

>>>

دا اړینه ده چې تاسو باید د ۲۰۲۴ کال د جولای تر ۳۱ پورې خپل نوم
لیکنه وکړئ.  د راجستر کولو یا نوم لیکنې سره، تاسو په اتوماتیک ډول
د ښاروالی د راتلونکو ټاکنو لپاره راجستر یا ثبت کیږئ او بیا تاسو مکلف
یاست چې رایه ورکړئ.

د یو غیر اروپایی بهرني شخص په توګه، تاسو اوس مهال حق نلرئ چې ځان د نوماندو په
لیست کې د نوماند په توګه وړاندې وکړئ. له بلې خوا، اروپایان کولی شي ځانونه د ښاروالی
ټاکنو لپاره په ټاکنیزو لیستونو کې ومومي او د ښاروالی سلاکارانو یا حتی د CPAS رییس یا
مشر په توګه وټاکل شي.

# زه رایه ورکوم

## عملي لارښوونې


د ټاکنو په ورځ، تاسو باید خپل د بلنې کارت او خپل پیژند پاڼه له ځان سره راوړئ ترڅو رایه ورکړئ.
د رای ورکولو مرکز ته د کاري ساعتونو په جریان کې په بلنه کې ذکر شوي ځای یا آدرس ته لاړ شئ.

## څنګه رایه ورکړو؟

په والونیا کې د ټولو ښاروالیو لپاره، رایه ورکول په لاسي ډول دي.

**لاسي رایه ورکول**

1. تاسو د رای ورکولو مرکز ته ځئ.
2. تاسو خپل پیژند پاڼه او د بلنې کارت د رایې ورکولو د مرکز رئیس یا د رایې ورکولو د مرکز غړو ته وړاندې کوئ
3. تاسود رایې کارت ترلاسه کوئ.
4. د رایې ورکولو کوچنۍ کوټه دننه ته لاړ شئ.
5. تاسو د دې هدف لپاره چمتو شوي سور پنسل په کارولو سره خپل انتخاب وکړئ.
6. د رایې ورکولو پاڼه د رای ورکولو صندوق ته واچوئ.
7. تاسو به خپل پیژند پاڼه او بلنې کارت د رای ورکولو د مرکز د مهر سره بیرته ترلاسه کوئ چې دا تصدیق کوي چې تاسو رایه ورکړې ده.



## د دې لپاره چې ستاسو رایه د اعتبار وړ وي، تاسو باید په لاندې ډول رایه ورکړئ:

**یا د لیست په سر کې رایه ورکړئ**




د لیست په سر کې د رایې ورکولو سره، تاسو د سیاسي ګوند نوماندانو لیست او هغه ترتیب چې کوم یو وړاندې شوي دواړه تصویبوي.


**یا له ورته لیست څخه یو یا ډیرو نوماندانو ته رایه ورکړئ:**





په دې توګه، تاسو د ورته لیست څخه د یو یا ډیرو نوماندانو په ګټه د نوماندۍ رایه په نښه کوئ، چې د لومړیتوب په نوم یادیږي.
که تاسو د لیست په پورتنۍ برخه کې یو چوکاټ او د ورته لیست د نوماند تر څنګ یو چوکاټ انتخابوې، ستاسو رایه به د نومولې په توګه وګڼل شي او ستاسو رایه به د لیست په سر کې نه ګڼل کیږي.

# بې اعتباره یا باطل رايي


د رای ورکولو ټولې پاڼې بې اعتباره  یا باطل
دي.





له هغو څخه پرته  چې مخکې اټکل یا پلان




د مختلفو لیستونو لپاره رايي لري(متنوع کول)





داسي نښه یا نښان ولرئ چې د رايي ورکوونکي د پېژندلو
وړ وي



کاغذ یا کوم بل شی ولري



په حجم یا شکل کې بدلون راغلي وي




هیڅ رایه نلري ("تشه" رایه)



د رای ورکولو د څانګې مشر ستاسو په بلنه لیک کې ټاپه کوي.
دا سند دا ثابتوي چې تاسو د یو باخبره تبعه په توګه خپل حق کارولی یا استعمال کړی دی. دا مهمه ده چې دا سند وساتل شي.

د وکالت لیک یا وثیقه له لارې رایه ورکول ممکن دي


که د کوم دلیل له مخې ، تاسو د رایې ورکولو په ورځ د رایې ورکولو مرکز ته د تللو توان نه لرئ حتی که تاسو د رایې ورکوونکي په توګه نوم لیکنه کړې وي، تاسو کولی شئ د وکالت په واسطه یو بل استازی یا وکیل وټاکئ ترڅو ستاسو په استازیتوب ستاسو وکیل رایه ورکړي. ستاسو د اعتبار وړ سند (طبي یا دناروغي سند، او نور) اړین دي .



وکالت لیک په یوه فورمه یا ډکنی کې ترتیب شوی چې تاسو کولی شئ د خپلې ښاروالی څخه په  وړیا ډول ترلاسه کړئ.



کوم بل رایه ورکوونکی کیدای شی د استازی په توګه وټاکل شي.




هر استازی کولی شي یوازې یو  وکالت پانه یا وکالت لیک ولري.



د ټاکنو په ورځ، ستاسو وکیل  یا استازی باید په کوم مرکز کې چې تاسو باید رایه ورکړې وي، د رایې ورکولو مرکز مشر ته وکالت لیک او همدارنګه  خپل پیژند پاڼه او بلنه ورکړي په کوم کې چې د رایې ورکولو مرکز مشر یادونه کوي چې هغه "د استازیتوب یا وکالت په اساس رایه ورکړه".



ستاسو د طرزالعملونو په اړه د هر ډول معلوماتو یا مرستې لپاره، ستاسو په سیمه کې د بهرنیانو یا بهرنیانو د ادغام سیمه ایز مرکز سره اړیکه ونیسئ.

# د سیمه ایز ادغام مرکزونه

**CAI** - Centre d'Action Interculturelle de la Province de Namur
Rue Docteur Haibe 2 - 5002 NAMUR

Tél. : 081 73 71 76 - Fax : 081 73 04 41
info@cainamur.be – www.cainamur.be

**Ce.R.A.I.C.** - Centre Régional d'Action Interculturelle de la Région du Centre
Rue Dieudonné François 43 - 7100 LA LOUVIÈRE (Trivières)

Tél. : 064 23 86 56 - Fax : 064 26 52 53
info@ceraic.be – www.ceraic.be

**CIMB** - Centre Interculturel de Mons et du Borinage
Rue Grande 38 - 7330 SAINT-GHISLAIN

Tél. : 065 61 18 50
cimb@skynet.be – www.cimb.be

**CRIBW** - Centre Régional d'Intégration du Brabant Wallon
Rue Henri Pauwels 2 - 1400 NIVELLES

Tél. : 067 33 15 69
info@cribw.be – www.cribw.be

**CRIC** - Centre Régional d'Intégration de Charleroi
Rue Hanoteau 23 - 6060 GILLY

Tél. : 071 20 98 60 - Fax : 071 20 98 61
info@cricharleroi.be – www.cricharleroi.be

**CRILUX** - Centre Régional d'Intégration de la province de Luxembourg
Avenue d'Houffalize 44 - 6800 LIBRAMONT


Tél. : 061 21 22 07
info@crilux.be – www.crilux.be

**CRIPEL** - Centre Régional pour l'Intégration des Personnes Étrangères et d'Origine Étrangère de Liège
Place Xavier Neujean 19b - 4000 LIÈGE

Tél. : 04 220 01 20
secretariat@cripel.be – www.cripel.be

**CRVI** - Centre Régional de Verviers pour l'Intégration des Personnes Étrangères et d'Origine Étrangère
Rue de Rome 17 - 4800 VERVIERS

Tél. : 087 35 35 20
perso@crvi.be – crvi.be





د هینوت ولایت Province de Hainaut (Ce.R.A.I.C., CIMB, CRIC)

د نامور ولایت Province de Namur (CAI)

د والون برابانت ولایت Province du Brabant wallon (CRIBW)

د لیژ ولایت Province de Liège (CRIPEL, CRVI)

د لوکزامبورګ ولایت Province du Luxembourg (CRILUX)



INFOS

# ایا زه رایه ورکولی شم؟

۱۳ د اکتوبر د ۲۰۲۴ کال د ښاروالۍ او ولایتي ټاکنو لپاره خپروني
د اړيکي شميره ۱۷۱۸ (وړيا شميره)
بریښنالیک: Election.localpowers@spw.wallonie.be
وېب پاڼه: http://electionslocales.wallonie.be/

# څنګه وکړو

د سیمه ایز ادغام مرکزونه
له والونيا څخه

د اړيکي شميره C.A.I. (Namur) : 081 73 71 76
د اړيکي شميره Ce.R.A.I.C. (La Louvière) : 064 23 86 56
د اړيکي شميره CIMB (Saint-Ghislain) 065 61 18 50
د اړيکي شميره CRIBW (Nivelles) : 067 33 15 69
د اړيکي شميره CRIC (Charleroi) : 071 20 98 60
د اړيکي شميره CRILUX (Libramont) : 061 21 22 07
د اړيکي شميره CRIPEL (Liège) : 04 220 01 20
د اړيکي شميره CRVI (Verviers) : 087 35 35 20
د اړيکي شميره DISCRI (Namur) : 081 43 55 31



DisCRI Asbl, CRIPEL اجرا کونکي

مسول مدیر:: Farid Nagui, Place Gustave Falmagne 5 - 5000 Namur فرید ناګوی

*Avec le soutien de*